# د اروانباد ډاکتر کبیر ستوري د اووم تلین نمانځغونډې ته په مشرانو جرګه (سینټ) کښې د کونړ ولایت استازي ښاغلي سناتور رفیع الله حیدري وینا



بسم الله الرحمن الرحیم

د خاص کونړ محترم ولسوال صاحب، د دره پیچ او نرنګ محترم ولسوال صاحبانو، سپین ږیرو، د شورا محترم ریس صیب، او د اروانباد کبیر ستوري د لیسې محترم مدیر صیب، ښوونکو، د غونډې درنو ګډونوالو او ګلالیو زده کوونکو، اسلام علیکوم و رحمة الله و برکاته.

دغونډې درنو برخه والو!

نن ورځ مونږ د پښتو د ژبې یو شاعر، لیکوال، ساه پوه، خیړونکي او خبریال اروانباد ډاکتر کبیر ستوري د اوومې کلیزې په مناسبت راټول شوي یو، هغه چا چې ددې غونډې او مشاعرې تابیا نیولې زحمت ئې ایستلی، دغه شاعران، لیکوالان او ادیبان ئې د کونړ ولایت د مرکز او د کونړ د بیلو بیلو ولسوالیو او د ننګرهار د ولایت نه راغوښتي، دزړه له کومې مننه کوو دا واقعا ډیر د قدر ځای دی الله دې دوئ ته توفیق ورکړي، چې په اینده کښې دغسې غونډې تر تیب او جوړې کړي، چې د کونړ د ټولو ولسوالیو ځوانان دلته راشي او ستاسې سره د نزدې نه د زړه خواله وکړي او خپل شعرونه ووایې.




زمونږ دغه ځوانانو چې اوس ئې مونږ شعرونه واوریدل، د دوی احساسات مو واوریدل، د هغو نه مو ډیر خوند واخست الله دې دوي ته توفیق ورکړي، چې په اینده کښې هم د خپلو هغه مشرانو، چې نومونه ئې مونږ سره پاتې دي او خپله نشته د هغو نمانځغونډې جوړې کړې، او د هغوی د افکارو نه، د هغوی د لاسته راوړنو نه، د هغوی د علم، پوهې او تجربو نه

چې په خپل وخت سره ترې هغوی خپله
استفاده کوله، مونږ او تاسې ترې هم ګټه
واخلو او استفاده ترې وکړو.

درنو حاضرينو!

ارواښاد ډاکتر کبير ستوري شايد څما نه
تاسې ښه وپيژنی، او ښه به مو پيژندلی وي،
ورسره ناستې به مو کړې وي، د هغې ليکنې به
مو ليدلې وي، د هغې ليکنې به مو لوستلې
وي،د هغې شعرونه به مو لوستلي او اوريدلې
وي ،که د هغه د ژوند په هکله غږيږو ، يا د هغه
د شعر په باره کښې غږيږو ،يا د هغه د ليکوالی
په باره کښې غږيږو او يا د سياست په ډګر
کښې چې هغه څه کړي دي، وغږيږو ،دا ډير
وخت نيسي او په دې لږ وخت کښې نه کيږي،
چې تاسې سره ټولې خبرې وکړو.




زه چې څومره مطالعه لرمه او د هغه ليکنې مې
لوستې، د هغه اشعار مې لوستې، هغه
غوښتل چې د خپلو پښتنو لپاره، د خپل ملت
لپاره او د خپل قوم او خلکو لپاره خدمت
وکړي. د سياست په ډګر کښې هغه ډير
تکليفونه ګاللې، او پدې لاره او مبارزه کښې
هغه د پاکستان په خاوره کښې بندې شو.

د ارواښاد ستوري ديارلس څوارلسو پورې
اثار چاپ شوي دي، راځئ دا د کونړ خاص
خلک ئې اول مطالعه کړو بيا ئې نور کونړ
او ټول افغانستان کښې خواره کړو.

د ارواښاد ستوري د ويناوو او د هغه د خبرو نه
به زه دوه ټکې را واخلم چې اولنې هغه څه دي،
چې هغه د پښتنو په خپل منځ کې بې اتفاقي
ده، نه يووالی دی، چې ددې سبب شوی، چې
پښتانه لا تر اوسه د ټولې دونيا په قومونو
کښې داسی يو قوم معرفي شوی، چې څوک ئې
د دهشتګر په نوم، څوک ئې د ورانکارې په نوم
بولي. هغه نومونه او لقبونه ورکوي، چې څما
نه پرې تاسې ښه پوهيږی، ددې بد بختيو يو
علت چې کبير ستوري ښودلې ،هغه بې علمي
ده ،نا پوهي ده، مونږ او تاسې علم نه دی کړی
او علم ته مو توجه نه ده کړې ، نو ښه خبره داده
،چې علم او زده کړې ته مخه او توجه وکړو ، د
روښانه راتلونکې ، او ددې غميزې نه د
خلاصون لپاره خپل ځانونه د علم په ګاڼه
سينګار کړو او د خپلو مشرانو تعارف کشرانو
ته وکړو ، د هغوی کارکردګي وستايو ، هغې
ددې قوم لپاره زحمتونه ګاللې، تکليفونه تير
کړي دي، نو پکار داده چې د هغې په خبره عمل
هم وکړو ، د هغې کتابونه وګورو ، د هغې
ليکنې وګورو د هغې شعرونه وګورو او په دې
ځانونه پوه کړو چې د څه هدف لپاره ده دا کار
کاوه، هدف ئې څه ؤ او کوم ځای ته ورسيده او
اوس بايد مونږه څه وکړو.

مونږ ډير ښه علمي او معنوي خلک لرل، خو
اوس دلته مونږ سره په کونړ نه شته، يا مړه دي،

يا مسافر دي، او هغه کوم چې دلته دي، هغه هم داسې ځوريدلي او زړونه ئې ټکيدلي دي چې نه غواړي ميدان ته راوځي.

ګلاليو زده کوونکو!

ستاسو کور، ستاسې مکتب، ستاسې استاد، ستاسې موټر، ستاسې سرک، ستاسې پل او ستاسې ترقي څوک نه غواړي او که تاسې غواړئ، چې تاسې ځلمي شئ او ددې نه استفاده وکړئ، او ددې نه ئې ښه جوړې کړې، نو خپل ډير وخت زده کړې ته ورکړې، درس وويوئ، مکتب وويوئ او ددغه موقع نه استفاده وکړئ، چې دا د کبير ستوري غوښتنې وې.




زمونږ د خلاصون او زمونږ د ارتقا او کاميابۍ يوازينۍ لاره علم دى، علم او پوهه په مکتب کښې حاصليږي، نو پکار ده چې خپلو اولادونو ته متوجو شو، چې زمونږ اولادونه علم حاصل کړي، نو دغه مشکلات، چې دا اوس ورسره مخ يو لدې څخه به خداى نجات راکړي.

درنو حاضرينو!

مونږ چې د بن دويم کنفرانس لپاره جرمنې ته تللي ؤ د بن د کنفرانس نه چې فارغ شولو، مونږ د کونړيانو خواته ورغلو، د سنا (مشرانو جرګې) رئيس ښاغلى فضل هادي مسلميار صيب هم راسره ؤ، مونږ داسې احساس نه دى کړى، چې مونږ په جرمنې کښې يو. هلته ددوئ مسجد، ددوئ ټولنې وې. او هغه کتابونه چې ما په جرمنې کښې د فرهنګي ټولنو نه راوړې، تراوسه پورې ما دلته نه دي ترلاسه کړي، هغه افغانان چې هلته دي لوړ احساس لري، دوئ هلته هم افغانان دي او دافغانانو بچې دى او زمونږ ددوئ نه هيله هم داده چې د هغه ځاى نه زمونږ په ځوانانو غږ وکړي، زمونږ د ځوانانو سره رابطې ولري، زمونږد ځوانانو سره تماسونه ولري، لکه څنګه چې کبير ستوري د خپلې محصلۍ په دوره کښې د لومړى ځل لپاره دغلته په جرمنې کښې تنظيم جوړ کړ او دغه ځوانان او خوره واره پښتانه ئې په ځان راغونډ کړل دغه راز د هغې د ځامنو نه، د هغې د ملګرو نه او د هغې د مکتب د شاګردانو نه، چې په المان او يا په نورو هيوادونو کښې اوسيږي زمونږ هيله دا ده چې دهغه په قدم قدم کيږدي.

ورونو!

مونږ د کونړ خاص ددغه او سنيو مسائلو نه خبر يو، ورته متوجه يو او هغه څه چې زمونږ په ذهن کښې دي، او هغه څه چې زمونږ زده دي، او هغه څه چې زمونږ په وس کښې دي، ستاسئ د هوساينئ لپاره، به ئې په کار اچوو، ستونزې او مشکلات به د ولسوال صيب سره شريکوو او تاسو سره په ګډه به ئې د سوله ايزې او خبرو اترو له لارې حل راوباسو.

مونږ په افغانستان کښې له دوسوه څخه زياتې ولسوالۍ لرو، چې د ټول افغانستان په ولسوالانو کښې ستاسې د کونړ خاص ولسوال

ښاغلی محمد رحمن دانش یوازینی ولسوال دی، چې د لوړو زده کړو او لوړ استعداد خاوند دی، د سیاسي علومو ماسټري لري. د افغانستان په بله ولسوالۍ کښې په دغه معیار باندې ولسوال نه دی تاکل شوی.

دا چې کله کونړ خاص ته راتللو نو ما ورته وویل چې ولسوال صیب ځوان ئې مخکې دې هم ولسوالي کړې ده، د کونړ خاص د خلکو خدمت به کوې، دلته مدني ټولنې دي، نورې ټولني دي، د شاعرانو ټولني دي، د دوی سره همغږي ولره، ددوئ سره مشورې ولره، او ستاسې نه هم زما هیله دا ده چې د ده د علم او پوهې نه استفاده وکړۍ، په انګلیسي ښه پوهیږي، که تاسې په لیسه کښې استاد نه لرۍ، په بل ښوونځي کښې استاد نه لرۍ راوې غواړئ چې شاګردانو ته درس ورکړي او له ده نه زمونږ هیله دا ده چې د نورور کارونو سره سره دې د کونړ خاص ولسوالۍ لیسو ته وخت ورکړي، په نړیوال سیاست او د ګاونډیو سره دې په سلوک پوه کړي.

په اخر کښې ډیره مننه د نصیر خان ستوري نه، ستړې مه شې ورته یو ځل بیا وایم او د ښاغلي نورالبشر نوید دغه دوه بیتونو سره خپلې خبرې پای ته رسوم:

داسې قامت لکه چنار چنار قامت د پښتو
لکه سرې چې ځې روان وې، سیوری نه شې نیوی
د لوې افغان د اسمان دا غرور څه لږ خو نه دی
سپوږمی به تندر رانیوی شي «ستوری» نه شې نیوی

ډیره ډیره مننه

سناتور رفیع الله حیدري